# پنډوسکی (توپ) واچوئ

| | |
|---|---|
| **درجه** | ۰ د (۴ څخه تر ۵ کلونو پورې) |
| **اړيني سرچينې** | داسې توپونه چې له ۱ څخه تر ۲۰ پورې شميرې پرې ليکل شوي وي.<br>تباشير |
| **د سرچينو لپاره بديلې لارې** | کچيرته تباشير موجود نه وي، له قلم او کاغذ څخه کار واخلئ.<br>کچيرته ۲۰ توپونه موجود نه وي، نو ۲۰ نرمو (ملايمو) شيانو څخه کار واخلئ لکه کوچنی کڅوړې چې له ريګ او يا له لوبياوو څخه ډکې شوې وي. |
| **د پوښښ موضوع** | شميرنه او عمليې |
| **په نخښه شوي مهارتونه** | د نمبر يا شمير پيژندنه او د عددونو يا شميرو رابطه |
| **الهام اخيستنه** | We are the Teachers |
| **ټولټال اړين وخت** | ۱۵ دقيقې د لوبې کولو لپاره<br>۱۰ دقيقې (کچيرته اړتيا وي چې استاد له ريګ او لوبياوو څخه کڅوړې ډکې کړي) |
| **مخکيني درس ته اړتيا** | له ۱ څخه تر ۱۰ پورې د جمع او تفريق عمليې<br>له ۱ څخه تر ۱۰ پورې شميرې<br>د شميرو رابطه (اړيکه) پيژندنه |
| **ملاتړ** | منځنۍ کچه |

د لوبې قوانين:

| | |
|---|---|
| **موخه** | د نمرو ترلاسه کولو لپاره توپ داسې يو صحيح عدد ته واچوئ چې د ۱۰ له شميرې سره مطابقت ولري او يا د ۱۰ شميره ورڅخه جوړه شي. |
| **قوانين** | - د هرې لوبې ماهيت بايد مخکې د لوبې کولو څخه څرګند و اوسي. د بيلګې په توګه، اوله لوبه د ورته عددونو لوبه ده، دوهمه لوبه د جمع کولو لوبه ده، او داسې نور<br>- لوبغاړی بايد مخکې د توپ اچونې څخه خپله موخه ووايي.<br>- د غلطې شميرې ويل په دې معنی دې چې لوبغاړی بايد توپ وا نچوي. او بل لوبغاړی به لوبه مخې ته بيايي<br><br>**د نمرو ورکوونې طريقه:**<br>کچيرته توپ په صحيحه نقطه وغورځيده، لوبغاړی دوه نمرې ترلاسه کوي.<br>که چيرته موخه په + يا -۱ له لاسه ورکړي، لوبغاړی يوه نمره ترلاسه کوي<br>او نور هرڅه د صفر نمرې سره مساوي دي. |
| **مرحلې** | لمړی مرحله: له ۴ څخه تر ۵ لوبغاړي په يوه لاين کې اودريږي.<br><br>دوهمه مرحله: د لومړي لوبغاړي مخې ته د دوو مترو په فاصله کې د ۱ څخه تر ۱۰ پورې شميرې د تباشير پواسطه پر ځمکه ليکل کيږي. (تاسو همدا راز کولی شئ چې د ځمکې پر ځای پر کاغذونو له ۱ څخه تر ۱۰ شميرې وليکئ او پر ځمکه يې کيږدئ.)<br><br>دريمه مرحله: د لومړي لوبغاړي خواته ۲۰ شميرې لرونکې توپونه په لاين کې کښيږدئ.<br><br>څلورمه مرحله: لوبه پيل کيږي. استاد زده کوونکو ته د لوبې د اولې مرحلې نوعيت څرګند کوي. د بيلګې په توګه: ورته شميرې (منطبقې شميرې). له دې څخه وروسته دوی اولينه شمير وايي مثلا د ۳ شميره. |

| | |
|---|---|
| | پینځمه مرحله: اولین لوبغاړی د ۳ شمیرې لرونکی توپ پیدا کوي، د ۳ عدد په لوړ (اوریدونکې) غږ سره وایې، او توپ هغه ځای ته اچوي کوم ځای کې چې د دریو ۳ عدد لیکل شوی وي.<br>شپږمه مرحله: نمرې د نمرو ورکوونې د طریقې په اساس ورکول کیږی او لوبغاړی باید توپ بیرته خپل ځای ته راوړي.<br><br>اوومه مرحله: د لوبې اوله دوره هغه وخت ختمیږي چې هر لوبغاړی په همدغه دوره کې د توپ اچونې ده فرصته ترلاسه کړي.<br><br>اتمه مرحله: لوبه په مختلف نوعیت یا ماهیت سره په دوهمه دوره کې تکرار کیږي. د بیلګې په توګه: ۱۰ شمیره جوړه کړئ. استاد د ۳ عدد شمیره وایې او لوبغاړی د ۷ شمیرې توپ ۷ شمیرې خانې ته چې په ځمکه لیکل شوی اچوي. |
| **انځورونه** | هیڅ |
| **په لوبه کې بدلونونه** | دا لوبه د ۲۰ شمیرې رابطې پورې لوبیدلی شي<br>کولی شئ دا لوبه د یوه توپ په واسطه ترسره کړئ. زده کوونکی به توپ د صحیحې شمرې لرونکې خانې ته هغه مهال چې استاد یې شمیره ووایې اچوي. |
| **غنې کوونه** | همدا لوبه کولی شئ چې د مختلفو عملیو لپاره وکاروئ لکه ضرب. کله چې استاد د ۲ ضرب زبانی یو ځواب ووایې لکه ۶ نو زده کوونکی به توپ د ۳ خانې ته اچوي.<br>همدا راز کولی شئ دا لوبه د تفریق عملیې د ترسره کولو لپاره وکاروئ |
| **ساده کوونه** | کولی شئ چې مخکې له دې چې زده کوونکی توپ صحیحې خانې ته واچوي، هغوی ته د شمیرې ویلو ځواب فرصت بیا بیا ورکړئ. |